# دوزخ په خواهشاتو سره پوښل شوی دی، او جنت په سختیو سره پوښل شوی دی

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "دوزخ په خواهشاتو سره پوښل شوی دی، او جنت په سختیو سره پوښل شوی دی ".
[صحیح دی] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم واضحه کړه چې اور په هغو کارونو سره پوښل شوی دی چې نفس يې غواړي لکه حرام کارونه او يا په واجباتو کې غفلت کول. څوک چې نفس د خپلو خواهشاتو تابع کړي نو د اور مستحق دی. او دا چې جنت په هغو شیانو سره پوښل شوی دی چې نفس ترې کرکه کوي لکه د هغو کارونو تر سره کول چې امر پرې شوی وي، او د حرامو کارونو پرېښودل او ترې صبر کول، نو که چېرته يې ترې ځان وساته او د خپل ځان سره يې مبارزه وکړه نو جنت ته د ننوتلو مستحق ګرځي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee